مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: خالق رشيد
۲۰۲۱/۰۴/۲۷

# دخدای پامان امريکا
# يوازې مسيح
# زمونږ مرسته کولای شي... ۸ ـ ۹

(ناول)

۲۰۰۶ - ۲۰۲۰ کـــلونه



Google pic

**A nowel,about what heppend in Afaghanistan**

Only Messiah Can Help Us

By

A.K .Rashid

(۸)

له کومې ورځې چې امريکايي پوځونه دافغانستان دغي سمسورې دري ته راغلي وو، اوله کومې ورځې به چې دلته له هرې خوا دغه تورې چنوک چورلکې را ښکاره شوې نوبيا به پردوی پسې دکارغانواوناشولته ټپوسانوسيلونه روان وو چې ترډيروپورې امريکايي پوځيان پردغه ناسپېرلي رازباندې سم نه پوهيدل....

-----------------------------------

نري نري باران دسيندغاړه خوراخطرناکه کړې وه، څوك به چې نژدې ورتلل يوبل به يې ترلاسوسره نيول چې ورونه ښوييږي،په دې چې لاندې سيندهم داسي هوسا سره روان وچې که هرڅوك يې دځپوترمنګولو ور رسيدل،نوبيايي په ژوندون خلاصون يوازې دخدای په لاس واوبس.د ونوپه پاڼو باندې هم لاداوريدلي باران څاڅکي داسي ځليدل لکه دپيغلي په غوږوکي دالماسواوياهم روښانه مرغلروبريښنده غم. دلوړو غروپرسروباندې توروتورو درنووريځوهره شيبه درنې درنې تالندې غرولې اوبريښولې داسې چې ديوشميرزړونه به يې ترپښو تيرول.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولـئ

مایکل نن په خپله بستره کې ویښ پروت و، نن یې ان له کړکې څخه دباندې لوړو لوړوغرونندارہ هم نه کوله،باران اوریده،نن په خپل وخت چای څښلوته هم ولاړنه شو،په دې چې نن یې مور په خوب لیدلې وه، نن یې دهغې په باره کې فکرکاوه،چې تراوسه هم لا دهغې په فکرکې ډوب و، هغه وریاده شوې وه چې ګواکې اوس به یې ورخ اوشپه ځنګه سره بیګااوسباکیږي...هغه وریاده شوه،چې یومهال به یې ویل ، زوی به مې لوی شي،هغه به له ماسره دژوند په هغه شیبه کې چې دانسان لپاره دماتې اوزوال اوزړبودئ دوره ده مرسته وکړي،ورپه یاده شوه چې هغې په یوه پښه دده لپاره ځومره نادودې اوخوارئ وکړې،لوی یې کړ،خواوس یې ددې پرځای چې له هغې سره مرسته کړې وای،لاهم دهغې لپاره دغم اوستونزولامل شو . فکرېي کاوه ، چې که دی هم په افغانستان کې مړشي،پرهغې به څه حال وي،دهغې هغه ټولې هیلې خوبه له خاوروسره سمې شي هغه چې دده لپاره یې درلودې ...

فکریې کاوه که دی دلته مړشی...هغه به ترده دمخه قبرته،هغه وروستې ځای اوځایګې ته چې هرڅوک باید ورشی اوځان که غواړي اوکه نه باید په ناچارئ سره یوه ورځ، یوه شپه، یومابښام اویوسحرور ورسوی ... داتول دڅه لپاره؟ ولې ؟

چې زړه به یې ډیرورډک شو نو بیا به یې له ډیره دوکه له ځان سره په زوره زوره وویل :

- سرمې مارچیچلی و،چې پوخ ته تلم،ولي مې داسې وکړل،دبې پلرونواوبې میندو په ټولنه کې خوهسې هم حال نه دی معلوم،مقصد سرکاري کچرو اوپه نامه دموکراسئ ته تاوان مه رسوه نورخوهسې هم آرام اوسوکاله ژوند دی کارکوه اوټکس ورکوه ...

دمایکل همدغه سوچ لا پرپای نه و لګیدلی،لایی هم دهغه لمنه نه وه پرېښې،چې یوناڅاپه ددوی داستوګنځي په خوا کې یوې درنې چاودنې هرڅه سره ولړزول ... وارخطا له ځایه را پورته شو په لوړآوازیی بیاخپله تلپاتې خبره وویله:

- عیسی مسیح دی زمونږ مل شي . بیا څه وشول... ؟

هرڅوك چې هرچیرې وو،ځانونه یې پټوخوواوسنګروته سره ورسول،له مایکله هم هرڅه هیرشول ده هم زر ځان له خپلونورو ملګروسره هغه ځای ته چې په داسې بیړنیوحالاتو کې ددوی لپاره ټاکل شوی و لکه بریښنا ورساوه . تریویونیم ساعته پورې هم څوك نه پوهیدل،چې دا ډرونکی غږدڅه شي و، خو وروسته روښانه شوه ، چې دماري دوی استوګنځی ته نژدې یو توغندی (سکر ۶۰) له کومې خوا راتوغول شوی و چې دتوپچي دټولي څلورتنه سرتیري په داسې حال کې چې دسهارچای یې څښل وژلي اونژدې اته تنه نورهم ټپي په خاورواو وینوکې لیت پیت امبولانسونو روغتون ته ولیږدل...

مایکل هم له خپل قوماندان سره دپیښې ځای ته ورغي دانجینرې څانګې کسان د توغندي په پارچو ټولولوباندې بوخت وو،دهغو په باره کې غږیدل،دهغه دغږ په باره کې غږیدل،دیوې ټوټې په یوه څنډه باندې لیکل شوې( مید ان یو، اس ، اي ) یوه بل ته یې سره وکتل،خوهیڅ یې سره ونه ویل،هغه ټوټه یې له نورو ټوټو څخه بیله کیښوده ، دوی په بیړې سره دهغه درانه توغندي ټوټې په داسې ډار ډار سره په دې چې دوی ډاریدل، نه چې اوس یې کوم بل را ونه لویږي ټولولې،ځکه دوی په دې پوهیدل،چې دافغانستان داسې سیمه نشته چې هلته به په غروکې دسکرتوغندیو بیلابیل ډولونه تراوسه هم نه وي هغه سکرونه چې امریکایانوبه خپلوافغان ګمارلوجګړه مارو ته دخپلوخلکواوخپلوښارونو د ورانی او بربادي لپاره ورکول .

اوامبولانسونه لاهم یوې اوبلې خواته په سروچراغو کې په آرامه توګه تلل اوراتلل.په ټول غونډ باندې یوه بده اوتوره فضا راخوره شوې وه، هرچا یوې اوبلې خواته منډې وهلې،چې په همدغه شیبه کې دوی چنوك بیا په ډیره بیړه راکښته شوې،اوهغه ټپیان چې حالت یې دانديښنې وړو،زر د باګرام پرلور په هواکړل ، مایکل او ملګرې یې لاهم دچاودنې په سیمه کې وو، چې ستیفن له کومې خوا په وارخطایي سره ځان دلته را ورساوه، سترې سترې کیده، داسې ښکاریده چې کوم ډیرنژدې ملګرې یې په دغه ډله کې وژل شوی وي، راورسید ، واردواره یې ترخوله راووتل :

- شان...شان ... لکه چې په مړوکې یوهغه هم و...

دشان نوم یې ترخوله راووت نوریې څه ونه ویل ، یوې اوبلې خواته لکه چې کوم شی یې ورك کړي وي،همداسې نارامه نارامه کیده، یوناڅاپه یې دتوغندي هغې ټوټې ته ورپام شو،پرهغې باندې چې لیکلي وو:(په امریکا کې جوړشوی)،ترسترګویې توره تیاره شوه اوپه اوچت اوازیې ترخوله راووتل:

- او،هودخدای لپاره،داخوهغه سکر ۶۰ وو چې روسان یې له افغانستان په ایستوکړل،دکابل ښاریې وران کړ...دادلته څه کوي... او، هو،دلته وګورې دا لیکنه مولوستې په امریکاکې ...

نورستیفن ته خدای ورکړه ځکه یې خپلوخبروته دوام ورکړ:

- داهماغه سکرتوغندي دي چې امریکا آن هغه مهال دکمونیزم د وژلو په پلمه زمونږ د وژلولپاره دلته را لیږلي وو... وموليده... نورهم په رښتیاوو باندې خولې پټې کړئ اووایئ چې روسي وسلې زمونږ پوځیان وژني ...که ددغودوه نورهم پرمونږ را وولي ، خدای شاهد دی چې خپله لاره به هم پیدا نه کړو...

دانجنيرۍ څانګې یوه تن غږ پرې وکړ :

- نه، نه دا امریکایي نه دي . دا پاکستاني دي، امریکایي ټاپه یې پرې وهلې ...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خوده يې زرخبره ورغبرګه کړه:
- ته ځآن لړارام ونيسه ، ته اوس نوې کونړ ته راغلی يې تا توره بوره نه ده ليدلې... ماته هرڅه معلوم دي،دتورې بورې هره کنده اوس هم په دغه سکرونو باندې ډکه ده ، ماهلته ان پرهغه کال چې ويل کيدل چې محاصره شوی اسامه په خپله دامريکايانو له لاسه ووت وليدل ... دا دپاکستان نه دي ، دا زموږ دی اودادی اوس پرموږ اوريږي ... که دا دپاکستان دي، نوستنګردچادي ؟ ....

مايکل اوقوماندان هغه ترلاس ونيواو له ځان سره يې يوازې دربنتياويلودمخنيوي له امله روان کړ...

اوباران لاهم ورو ورو اوريده ، تورې درنې لړې لاهم دغونډپرسرفضا درنه پوښلې وه،دامبولانسوغږونه لاهم اوريدل کيدل،دويمه جوړه چنوك لاتراوسه په هواکې يوې اوبلې خواته ترلوړو اف ۱۶ رالاندې يوې اوبلې خوا ته تلې راتلې اولايې هم دغروپرسروباندې ددې لپاره الوتنې کولې څو ومومي چې داننی توغندی له کومې خوا را ويشتل شوی و...

دامريکايی پوځيانو له راتګه وروسته به هروخت دکونړپرآسمان له تورو چينوك الوتکو سره يوځای کارغان اوټپوسان هم له يوې اوبلې خوا راوالوتل،داسې چې تا به ويل دوی ټول په يوه خوله اوپه ګډه ددغو چورلکو هرکلي ته منډې ور وهي ، دوی به سيلونو سيلونوترچينوك الوتکولاندې په هوا کې يوې او بلې خوا ته بدمرغې کريږي او نارې اوتغارې پيل کړې.مايکل به چې دغه ناوخته را پيداشوې توركارغان او تورې چنوك الوتکې په هواکې وليدل، هغه دلومړي ورځې،هغه داوړي دشپو ورځودرنې شيبې به وريادې شوې،هغه چې نژدې ځلويښت تنه سرتيرې له يوې چنوك سره له باګرامه راوالوتل اودلته ټول لولپه شول.مايکل پرهغه سهار چې دوی په خپلو ملګرو پسې وارخطا وارخطا ګرزيدل هلته اودلته ددغوکارغانواوټپوسانو ښه ننداره کړې وه ، اوورپه يادشوه، لکه چې ملګري يې ورته ويلی وو چيرې چې دغه کارغان او ټپوسان په هواکې ښوري راښوري، دوی خوب ويني چې چيرې خامخا دآدم کوم بچې دمځکې پرسردم ختلی پروت دی ...

غرمه نژدې په ورستيو شيبوکې وه ، پوځيان له يوه سره  دډوډۍ خوړلو لپاره خوړنځي ته تلل، دوه اودرې کسه به په يوه ميزسره کيناستل،هره ورځ به دډوډۍ پرسربه له هرې خواد خندا اوخوشالۍ غږونه اوريدل کيدل، خونن دهيچا پرخوله اوشونډو دخندا اوخوښيونښې نه وې ، په دې چې نژدې دوولس دیارلس تنو ځوانانوچې ټول ددوی ملګري اوياران وو، نن خپل ژوندونه له لاسه ورکړي وو.اوهم هغه سکرتوغندي چې امريکايانو دکمونيزم دماتې لپاره را ليږلي و نن دلته ددغو امريکايي ځوانانو ملاوې اوککرې ورماتې کړې وې ، هغوی چې وسلې جوړوي او هغوی چې فکرکوي پرهغوباندې به نور ووژني بايد ددې لپاره تياری ولري چې هم هغه وسلی امريکايان،افغانان،روسان اونور نه پيژني هغه انسانان بی توپيره وژني لکه چې نن هم امريکايي (سکر۶۰ ) امريکايان نيمه خوا دميندو او پلرونو غيږو ته نيمه خوا ورواستول...

مايکل اوماري هم يوبل نن همدلته سره وليدل ، مايکل پوښتنه ترې کړې وه ، چې وژل شويوکسانو کې څوك وو، خودې لاهم پوره ځواب نه ورته ويلی ، يوازې دومره يې ورته ويلي وو چې دتوپچي يو ډګروال هم پکې و. دنورو نومونه دې ته هم نه ووځرګند، په دې چې ماري هم ددغې ترخې پيښې ځای ته لږ وروسته وررسيدلې وه، مايکل دستيفن له خولې دشان نوم ورته اخستی و،هغې منلې وه چې،هو، شان هم په مړيوکې و،اوشان دمورهغه يوازنی زوی وچې داځوشېپې دمخه يې مور په تکزاس کې له يوه تلويزيون سره مرکه کړې وه ، چې وروړمی ډګروال ګورين په عراق، خور مي ايلن په سوريه کې ووژل شول او زوی به مي له افغانستان څخه ژوندی رانه شي ... اودهغې مور ربنتيا ويلی وو...

شان نن په رښتياهم په دغوځوانو مړوکی و، چې همداځوشيبې دمخه يې دهغه مړی په چينوك کې باګرام ته وليږداوه .مايکل په هغه غرمه له ډيره غمه ډوډۍ ونه خوړه... شان ده او په زرګونونوروپوځيانو پيژاند، دهغه دمرګ خبرلکه دبريښنا په شان په ټولو پوځي قطعو کې خپورشو، شان په دې هرچا پيژانده چې موريې هره ورځ له ورځپاڼواوراديوګانوسره په هغو بدمرغيوباندې خبرې کولې چې هغه امريکايي سرتيرو ته په افغانستان اوعراق کې دهرې ورځې په ترخ کې ورپيښيدې ...

هغه ټولې نادودې چې پر دغو سرتيرو باندې هلته تيريدې،له هغوټولودشان مورپه پرله پسې توګه خبريده،هغې لکه دمارټين لوترکينګ،ګاندي او پاچان خان غوندې له جګړې نفرت کاوه ... هغې به ويل چې زموږ زامن ديوڅوتنو دهيلواوغرضونو لپاره په افغانستان کې وژل کيږي...

ځکه نو شان اودهغه مورټولوهغوی چې له جګړې به يې کرکه کوله اودغه جګړه يې يوه بايللې اوبې ماناجګړه بلله پيژندل ... دشان مورکه انتقادونه کول اويايی ددغو سرتيرو دفاع کوله، نوخپل زوی يې هم له ځان سره نه وکينولی ،هغې پرحکومت باندې ځکه تيره اوځرګند انتقادونه کول چې دنورو زامن يې دنړۍ پرمخ هلته او دلته وژل ، ددې خپل زوی هم ددهمدغه قرباني سرتيروپه ليکوکې دلته و ، زوی هم دلته په دغو حالاتو کې ددغه ژوند سختې شپې ورځې له هغو زرګونو پوځيانو سره په دغومرګونو حالاتو کې په بې توپيرۍ سره تيرولې .خونن شان هم دسکر۶۰ امريکايی توغندي قرباني شوی و اوهم هغه موريی نن په واشنګټن کې له کونړه د هغه په وينو سرې جنازې ته په مات زړه سترګې په لاره وه...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ

اوهغي رښتيا ويلي وو چي ددې زوى به لکه ددې ورورچي له عراقه ژوندى را نه غى له افغانستان ژوندى را ستون نه شي ...

****

تيرمابنام ته لاهم شيبي پاتي وې،لاهم ، تياره نه وه راخوره شوې ،زياتره سرتيري بياهم په خوړنځي کي په ډوډى ناست وو، چي يوناڅاپي يې دخبرونوپه ترڅ کي واوريدل :

« نن د افغانستان په ختيزکي څلور پوځيان هغه مهال ووژل شول،چي ددوى پراستوګنځى باندې دسولې اودموکراسئ دښمنانانويوتوغندى ور وتوغاوه ، په دغه پيښه کي تراته زيات نورپوځيان هم ټپيان شوي چي دپنځويي حالت سخت ښودل شوى دي...په افغانستان کي دامريکايي وژل شويوشميرنن تر دوه سوه اوپنځوس ور واوښت ... »

دشان،ګورين،تام او ګريس عکسونه يې يوپربل پسي وښودل اوويې ويل چي دوى نن له خپلو ملګروسره دابدلپاره خداى پاماني وکړ.

له دغه خبرسره سم يې دشان مورهم وښوده چي دوې اوونى مخکي يې پورتنى خبره کړې وه،چي ددې زوى به له افغانستانه ژوندى را ستون نه شى....

ماري اومايکل هم په همدغه شيبه کي خوړنځي ته رارسيدلي وو،دخبرله اوريدوسره سم يې يوه اوبل ته وکتل...دماري په سترګو کي داوښکو تيکاوونه شواوپه خوړنځي کي په چغوچغو په ژړا شوه، تولو دې ته کتل... يوشميرنورووهم له ډوډى لاس ونيول اودماري ژړاوسونا ته يې حيران حيران په ماتو زړونو يوازې دمرو اوښکوله هندارو کتل ...

مايکل خپله هم په خواشيني اکر درګرده دې ته تسل ورکاوه ، خوددې ژړا نه دريده يوپوخل خوبه يې دشان هغه خبره هم ترخوله راووته هغه چي ده به تل له دوى سره په خبرو خبروکي ويله :

- موږ دلته دڅه لپاره مرو... دڅه لپاره؟ که موږ دغوخلکوپه رښتيا هم راغوښتي واى نو بيا به مو دغه حال نه و...موږ بايد په دې پوه شو،چي موږ داملت نه مني،هغوى همداچغې وهي چي تاسي که دمرستي لپاره يې راغلي ياست،نوبيا دا دبى ګناه خلکو ، ما شومانو وژني دڅه لپاره دي ؟که مرګ مرسته وي اودهغي لپاره راغلي ياست دا خوموږ نه غواړو...ځکه هرچا ته دمرګ چل په ډيرآسانى سره ورتلاى شي .

هو، دغه خلک رښتياوايي ، موږ له دوى سره يوازې دمرګ او وراني ، دغلواو سرى وژنکو،دنشه توکونود قاچاقبروپه ملا تړاوخوندي ساتنه کي مومرسته کړې .... موږ هغوغلوته واک ورکړهغوى چي ددوى تاريخى اوښکلي کابل يې خاورې خاورې کړ،اولسګونو زره ځوانان،ماشومان اونجوني لندغرو دجهاد ترسيوري لاندې په دغه په هيوادکي نيمه خوا اوبې عزته کړل...همداده چي زموږ به هم دغه حال وي ...

خومايکل ماري په همدغه حالت کي ترلاس ونيوه ، دهغې لپاره ترټولو دردونکي داوه ، چي هغي دشان مورهم له نژې پيژندله، دشان مور په دې وروستيوکي دامريکا په ټولو کليساوو باندې وګرځيده او له ټولو مذهبي لارښوونکو څخه يې وغوښتل چي دامريکا حکومت دې ته اړباسي چي دبى ګناه افغانانوپه وراندې دجنګ تګلاره پاى ته ورسوي اوکه نه زموږدغه روان کړه وړه به دغه نړى له يوې سختي بدمرغى سره مخامخ کړي،خوهغوى يې هم خبره وانه وريده او همداسي له ځان سره پاتي شوه ، هغي تل په خپلو مرکوکي په همدغه نازک ټکي ټينګار کاوه :

- زه يوه موريم ، اومور کله هم د بلي مور پرزوى باندې د وژني دحکم او قوماندې زړه نه لري ... زه نه غواړم چي زموږ زامن دې دهيڅ لپاره مره شي،څوک ويلاى شي چي په افغانستان کي زموږ دپوځيانو لپاره مرينه څه ډول انساني وياړدى؟ دچا لپاره ده ؟ او کوم لامل دى چي موږ خپل زامن هلته استولي دي ...

خودهغي غږ هيچا ونه اوريد،او داده نن هغه په رښتياهم دخپل زوى شان په مړي باندې دسلګونوامريکايى نيمه خوا ميندو غوندې وژړيده...

مايکل او جيم دواړو ماري ترخپل استوګنځي پورې بدرګه کړه ، بنايسته وخت يې هلته له هغې سره هم خبرې وکړې، خودهغي ژړا لاهم نه دريده ، په هغه شپه يې په روغتون کي هم دنده نه درلوده، مايکل او جيم ته يې دشان دمورهغه عکسونه هم ور وښودل،کله چي دوى دافغانستان پرلور راتلل او دې دخداى پاماني پرمهال له شان سره يوځاى دخپلي فرقي په لوى ستديوم کي اخيستي وو.

شپه ناوخته وه ، دوى لاپه نني غم باندې ژړل،چي يوځل ناڅاپه ددوى استوګنځي ته نژدې يوه بل توغندي دشپې نارامه زړه ولړزاوه ، په ټوله قرارګاه کي دخطر زنګ شورماشورپورته شو،مايکل،ماري اوجيم دشان د درد کيسه دشپې په دغه توره کي داسي له ياده وايسته چي تابه ويل هيڅ هم نه دې شوي ، زر زر يې ځانونه دخپل استوګنځي لاندې سمڅې ته چي ددوى دخطرپرمهال دتولون ځاى و په بيړه بيړه ورسول ، مايکل په داسي حال کي چي ډاريې څيره ژيړه کړې وه جيم اوماري ته دشونډو په سروپه سترګو اوترخه کي موسکا کي وويل :

- که ژوند او خطرله يوه بل سره ملګرتيا ونه کړي ، باور دى چي نه به په ژوند کي څه پاتي شي اونه هم په خطرکي، که داسي نه واى تراوسه به مو له ماري سره ژړل!

ټول پوځيان نژدې ترنيموشپو پورې همداسي تيارسئ سترګي په لاره پاتي شول ، خو له هغه يوه درانه ډزه پرته بل څه په هغه شپه کي نورڅه پيښ نه شول ...

کوم يوه له مايکل سره دشان خبره وکړه چي ګواکي شان هم ولاړ ...

مايکل سر ورته وښوراوه :


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

- شان ولاړ، جان ولاړ،که دا حال و سبا به دمایکل هم واوري ... په پښتوژبه کې یوه سندره ده زما ډیره خوښیږي، موږ باید دهغوی غوږوته چې موږ یې دجنګ ښامارته حواله کړي یودهغي پیغام ورسوو چې وایی :
په اخرت خوارشي ریباره به ایرو پټ اور دي لیده پرې ودې سومه
هو، موږ ته مرګ اوخطردواړو لاس یوکړي،اوس موږ ددغو دواړوپه منګولوکې یو، پرته له دې چې ووایو : یوازې مسیح دې زموږ مل شي ... بله چاره نشته ... نشته... اونشته ....



(۹)

...دافغانستان جګړه دایلیاده اوادیسه کیسه اودترای جګړه ده چې دهغې لپاره دکلوخبره نه ده بلکه دنسلو خبره ده ، تراوسه لا ترای جوړشوی نه دی ، هغه به جوړیږي ، هغه به پرتم ته رسیږي اوبیا به هغه ورانیږي، هغه به سوځیږي ... اوله هغه وروسته به بیا خلک پوهیږي چې رښتیاهم ستیفن دسولې په اړه فکرکاوه، اوپوهیږي به وایي چې ستیفنه نابغه وې، کاشکې اوس ژوندی وای اوموږ دې لاربښونه کړي وای ...

-----------------------------------

د ۲۰۰۶ نوي کال شپه وه،مایکل یې له خپلې مورسره دماري له استوګنځي خبرې وکړې اوهغې ته یې دنوي کال مبارکي وویله او دهغوکلونو خاطرې یې ورسره یادې کړې هغه چې ده اوموربه یې کرسمس په خوشالیواوجشنوسره نمانځه ...
له خبرو وروسته یې دګلانویوه ګیډۍ ماري ته دنوي کال دمبارکۍ له امله راوړې وه خو هغې ته یې لاهم نه وه ورکړې،په دې چې نن شپه دغونډ په لویه خیمه کې دنوي کال په ویاړجشن هم نیول شوی و،هلته دبیلا بیلو پرګرامونوتا بیا شوې وه ، یوشمیرپوځیانوغوښتل چې په مستقیمه توګه له نوموړومراسمو څخه له خپلو کورنیوسره هم په نوي کال اړیکې کلک کړي اومبارکي یې ورته ووایي،له کابل اوباګرام څخه هم یوشمیرمسوول کسان،نراوښځې راغلي وو،ځکه چې دیو شمیرسرتیرووداتلوالیواوسربښندنویادونه اوستاینه هم ددغو مراسمو په ترڅ کې کیده .
دماري په کوټه کې یومجله ایښې وه،هلته دافغانستان په تیره بیادکونړاوکافرستان په اړه جالب انځورونه اونوې خبرې کښل شوې وې، په هغه کې دمقدوني سکندرپه اړه هم خبرې راغلې وې،اودایې هم لیکلي ول چې هغه ددغه هیواد له شهزادګۍ رخشاني سره په دغوشنودرواوددغو غروپه منځ کې دنوي کال پرشپه واده وکړ.هغه چې ډیره ښکلې وه،داسې چې سکندرغوندې لوی واکمن اوپه لسګونونوربه دهغې په لیدو سره اوبه اوبه کیدل.
مایکل همدغه کیسه لوستې وه ځکه نواوس دهغې په باره کې غږیده چې ماري هیله ترې وکړه چې هغه کیسه خپله پریوځه اوچت غږ ولولي،اصلي خبره داوه چې له هغې ورځې چې ماري اومایکل له یوه بل سره لیدلي وو،ددوی ترمنځ دیاراني یونرۍ تار چې دواړه پرې پوهیدل خو لیده یې نه،سره غوټه شوی و.مایکل چې ماري به مایک باله په دې دخپل زړه خبره نه ورته کوله،چې له دی یې ځوځځلي اوریدلي وو، چې هغه مل ووړکۍ( بای فرینډ) لري چې کله له دغه ځایه بیرته ورستنږي،نوبیابه له هغه سره واده کوي اوماري له دې امله په دغه باره کې فکرنه شوکولای چې یوځوپوځي حالت واوبل داچې په دغه حال کې ژوند په سره تناره کې و، دې نه غوښتل چې دیوه اورپر سروسکروټو دې یوبل هم بل کړي. په هغه شپه یې دسکندراورخشاني کیسه ترپایه واوریده ،ماري په سوچ کې داسې ورته تللې وه،چې تابه ویل همدا اوس په دغه دره کې دهغوی دواده ورا راروانه ده اودایې ننداره کوي...مایکل ته یې وکتل دکتاب په کرښويې خپل لاس کیښود،مایکل لاهم په کرښوپسې کتل،کرښې نه ښکاریدې او ځانونه یې اوس دیوه نازك لاس ترشا له هغه پټ کړې وو، یوازې یې د سپین نازك لاس دګوتې په منځ په یوه نامه(رخشانه ، رکشانه ) باندې سترګې لګیدې،مارې اوس دده مخې ته راوړاندې شوې وه،دهغې سترګوته یې په ځیرځیرسره وکتل،خو په خوله کې یې لاهم درخشانې،رکشاني ټکي د سکندر ترنامه دمخه خواږه کیدل...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ماري دخپل کټ له سره خپل نازک لاسونه دمایکل تر سرراتاوکړل اوهغه یې دخپلو تیوپه منځ کې ونیواودساړه اوسیلي په ملتیایۍ له خولي راووتل :

ـ که زه اوته هم په دغه شډلو دروکې له یوه اوبل سره مینه وکړو،دابه ګناه وېمایکل ؟

مایکل هم په داسې حال کې چې خپله اراده یې له لاسه ورکړې وه ، یوازې یې دهغې له تاوده بدنه دیوې ناڅرګندې لمبې احساس کاوه.خپل سریې هملته ارام نیولی واونه یې شوای کولای چې خپلې سترګې سره پرانیزي ... دهغې دبدن دتودوخې څپه وارپه وارډده پرلوررانژدې کېده ، ترڅوچې یې نورڅه ته دویلو اواوریدلو شیبه ورنه کړه ...

ماري ډېره ښکلې نجلۍ وه ، سره له دې چې مایکل یې ځووم ملګری و، خواوس داسې فکرکېده چې دا به یې وروستی هغه وي ، مایکل نه غوښتل ، چې په دغه حساسه شیبه کې چې له یوې خوا مرګ ورپسې ځارودی اوله بلې خواځان په مینې کې ورښکیل کړي. خوماري ترده په زړه زړه وره وه اویوه بله یې ورته وویله :

- هو، سکندرزرګونه کلونه مخکې په دغودروکې دمینې خبره هیره نه کړه ، زه اوته یې دیوشتمې پیړۍ په سرکې څنګه هیرولای شو...؟؟

مایکل یې کلك په غیږ کې ونیواودهغه وچې شونډې یې په خپلو شونډوکې داسې کلکې کړې،چې پریوه فشاریې دمایکل زړه هم دچاخبره سره رېښکې رېښکې کړ. ماري هغه نورهم راکلك کړ، نوره یې هم خوله لکه په خواتۍ منه باندې کلکه کړه،داسې چې تابه ویل نور یې وینې دماري دغاښونو له ډاره له شونډو تښتیدلي دي اودهغه په مخ یې دخپلو شونډودسرخې په بیضوي کې دغاښونو رنګ انځور ویوست .

خپل غبرګ لاسونه یې دمایکل پرمخ راتیرکړل اوخپله سینه یې لکه دکوترې په شان دهغه له سینې سره په خپلې تولې تودوخې پټلیزه کړه اوآه یې ترخوله راووته :

- مینه اومرګ دواړه ، سرې پر یوچا اویوڅه سپاري ... پریوچا ... هو، یودې په زړونو سپاري اوبل دپه قبرونو...نن دنوي کال شپه ده ،موږ باید دغو دواړو ته غیږه ورکړو، په دې چې زموږ لپاره دواړه انتظاروباسي ... هو، موږ باید له دواړوسره نیکې اړیکې ولرو... په دې چې دا دواړه موږ دواړه غواړي ... هودواړه ... موږ چاره نه لرو ... ترهغوچې موږ په افغانستان کې یو له موږ سره ددواړو یارانه ده ...

اومایکل یې نورهم په غیږکې کلك ونیو.

شپه لانیمایي ته نه وه رسیدلې ، چې دوی هم دنوي کال دنمانځنې لویې خیمې ته ورروان شول ،کله چې له خپلې کوټې ووتل ، دغرویه سروکې یې په ځراغونو سترګې ولګیدې،اسمان ته یې وکتل،ستورې یې ولیدل چې په خپلورنوسترګوکې یې دوی ته سترګکونه وهل،له لرې لرې یې دهماغې سندرې زوږ ترغوږ شو. چې نن بیا کوم سرتیرې په افغاني پوسته کې پورته کړې وه :

اودکونړغلام محمده ، باډیل ته مه ځه

اوساپوډیروژلي دینه ...

دغه سندره دمایکل په یاد وه اوپه مانا یې هم پوهیده ، هغه یې ماري ته وژباړله :

ـ دلته دغې سیمې ته چې کوم سرې وژونکې که بش وی اویا موش راځي ، هغه باید په دې پوه شي، چې دلته یوځوك اویوخطر دهغه دهرکلي لپاره تیارسترګې په لاره دی ، ځکه چې هغوی دلته ډیربې ګناه وژلي دي ،هغه باید دومره هم ډاډه نه وي ، چې دلته راورسیږي او فکروکړي چې نورنوهرڅه ترسره شول ... دلته خطر له رسیدو وروسته پیل کیږي ...

ماري اومایکل دنوي کال په شپه په هغه لویه اوپرتمینه غونډه کې چې په کونړ کې جوړه شوې وه له نوروملګروسره برخه واخیسته ، تولوهلته په هغه شپه په خوراکونو اوڅښاکونوباندې ښه زړه یخ کړی و، ستیفن یې ولید هغه هم ترډیرو پورې ورسره ناست و،هغه هم دچا خبره په شرابو ځان داسې ډډکړی و،چې په هرو ځوشیبوکې به یې خوله دماري په مخ سریښ کړې وه، ماري ددې لپاره چې ویې غږوې یوځل ورته وویل:

- راتلونکی کرسمس که دلته وو، زماواوستا واده به کیږي ...

خوده سترګې سره کش کړې ، وروځې پورته پورته سره واچولې ...

- ولې راتلونکي کال ... ترهغه مخکې به ونه شي...

- ترهغو به جنګ پای ته ور سیږي اوالقاعده اوطالبان به ختم شي ، موږ به هم خپل هیواد ته ستانه شو....

- څه شي،جنګ به پای ته ورسیږي که موږ ؟

- نه جنګ ...

- چې جنګ دومره زر پای ورسیږي نو بیایې پیل ته څه اړتیاوه...اوزموږ راتګ دڅه لپاره و.

- په دې چې دلته خو تروریزم و، اوس به هغه پای ته ورسیږي اوموږ ...

- ساده ، ډاکتره یې که نه ، هرڅه ته دسپینولاس ماغوګانوله دریځ مه ګوره ...اوس باید حالت ته دتوپ اوالوتکې داوسپنې درنګ له مخې وګورې ... هغه هم په افغانستان کې...

- دتوپ او اوسپنې له رنګه دمانا څه ده ؟

- دیګ چینې پیژنې ...

- هو، دامریکادولسمشر مرستیال ...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

- له دې پرته يې نورهم پيژني ؟
- هو، وايي ديوې کمپنۍ مشردی ...
- کمپني يې دڅه شي ده ، په دې هم پوهيږې ؟
- نه ، تردې زياته نه پوهيږم ....
- ديگ چيني ، نه يوازې په امريکاکي بدنومی سږې دی ، بلکه داهغه څوك دی چې نړۍ ته سږي وژونکي وسلې جوړوي اواستوي ... دنړۍ ددغو اوسنيوجګړو طراح هم دی اودده دوسلوکمپنۍ ده ... هغه تراوسه دې ته نه دی تيار چې په افغانستان اوعراق کې بايد جګړې پای ته ورسيږي ...که ته په دې فکرکې وې چې راتلونکي کال به موږ په امريکاکې وو... اوددې وطن خلك به په خپله دخپل هيواد خاوندان وي دايوخوب دی اويوخيال ... ترټولو ښه خبره داده چې همدا اوس واده راسره وکړې ... زما ډيره خوښيږې ... په بل چا پسې مه ګرزه ... دم غنيمت وبوله ... داسې ورځ به راشي چې ما به هم ونه وينې ... په دې چې القاعده اوبش دواړه ظالمان دي ...د دوی دواړوترمنځ توپيرنشته ، دوی خلك وژني اودوی مينې وژني ...
- ښه ده ، زه به فکروکړم ... ته هم سم وايې ... زه بايد ياستاومنم اوياهم دديګ چيني ....
- ساده نرسې . دهغه مه منه ، هغه خو همدومره لورينه دربانديې وکړه چې دمرګ خولې ته يې راواچولې ،زما ومنه چې دانجای لاره دربنيم ...دافغانستان جنګ دايلياده اواديسه کيسه اودترای جګړه ده چې دهغې لپاره دکلوخبره نه ده بلکه دنسلو خبره ده ، تراوسه لا ترای جوړشوی نه دی،هغه به جوړيږي ، هغه به پرتم ته رسيږي اوبيا به هغه ورانيږي ، هغه به سوځيږي ... اوله هغه وروسته به بيا خلک پوهيږي او دسولې په اړه به فکرکوي... هغه مهال به وايي چې دريغه ستيفنه بې شکه چې نابغه وې ، کاشکي چې اوس خو ژوندی وای چې موږدې لاربښونه کړې وای...
ماري اومايکل په هغه شپه ترناوخته پورې په هغه لوی اوپرتمين جشن کې پاتې شول، نږدې سپيده چاود وچې له هغه ځايه راووتل،مايکل خپل لاس دماري پراوږه ايښې و، دکونړروښانه آسمان ته يې وکتل، دخپل استوګنځي ځراغونه يې ولګول، ماري ته يوځل بيا د روښانه ځراغ ترړڼا لاندې په ځيرځيرسره وکتل، دماري تيره خبره ورياده شوه :
ـ سکندرزرګونه کلونه مخکې په دغودروکې دمينې خبره هيره نه کړه ، زه اوته ...
خوده ته بيا هم دمساپرخان لنډۍ ورياده شوه چې کله کله به يې دنيموشپوپه درانه زږه کې ورته ويله :
داپه ځيرځيرچې درته ګورم
ما درکې نښې دیارۍ ليدلې دينه



Google pic


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ